صص ۹۱-۱۱۰ نهمه دوره، څلورمه ګڼه، د ۱۴۰۴کال ژمي ISSN: P-2789-1879/E-2789-1887

د مقالې ډول: علمي – څېړنیزه
د ترلاسه کولو نېټه: ۱۴۰۴/۱۰/۲۶
د پذیرش نېټه: ۱۴۰۴/۱۲/۱۵
د نشر نېټه: ۱۴۰۴/۱۲/۲۹

د رڼا علمي– څېړنیزه فصل نامه
Rana Academic & Research Journal

# د سیاسي برخې د خبریالانو له لوري د راپورونو د سوژو په ټاکلو کې د اېکس ټولنیزې شبکې د کارونې ارزونه (ځانګړې مطالعه، د کابل د خصوصي ټلویزیونونو خبریالان، ۱۴۰۳)

# An Assessment of Political Journalists' Use of X in Television News Topic Selection (Political journalists of Kabul's private TV stations, 1403)

احمدرشاد عظیمی[۱]، پوهاند محمد شفیق وردک[۲]، نجیب‌الله لعل زوی[۳]

**لنډیز**

په برېښنایي اړیکو کې خواله رسنۍ د معلوماتو د لېږد په بدلون او خبري سرچینو ته د خبریالانو د لاسرسي په رامنځته کولو کې مهم رول لري. دا څېړنه په دې موخه شوې چې په کابل کې د خصوصي ټلویزیونونو سیاسي برخې خبریالانو له لوري د اېکس ټولنیز شبکې د کارونې او ترې د سوژو ټاکلو ترمنځ اړیکه څرګنده کړي. په دې څېړنه کې کارول شوې تګلاره سروې ده او د نمونې اخیستنې لپاره له طبقه یي میتود څخه استفاده شوې ده. د اطلاعاتو راټولولو لپاره له معیاري پوښتنپاڼې استفاده شوې او په پنځو برخو کې یې ۱۳ پوښتنې درلودې. دا پوښتنپاڼه له څو ځلي ارزونې وروسته د پایلې ترلاسه کولو لپاره په (SPSS 2018) سافټویر کې د کرانباخ الفا د ازمایلو لپاره ورکړ شوې، چې د کرانباخ الفا یې (۰.۸) ترلاسه شوې ده. د څېړنې ترلاسه شوې پایلې هم په اس پي اس اس سافټویر کې تحلیل شوي دي. د خبریالۍ په بهیر کې د اېکس کارونه د دې سبب کېږي، چې خبریالان پر وخت او له نورو سرچینو په چټکه توګه اطلاعات ترلاسه کړي او د خپلو راپورونو لپاره ترې سوژې وټاکي. که د دې پلټفورم کارول هېر شي، خبریالان له برعکس پایلو سره مخ کېږي. د کابل خصوصي ټلویزیونونو د سیاسي برخې خبریالانو له لوري د اېکس کارونه دوی ته دا فرصت ورکوي چې راپورونه یې چټک او هر اړخیز چمتو شي څکه دوی داسې کسانو او سرچینو ته د اېکس له لارې لاسرسی پیدا کوي، چې په دودیز ډول یې ترلاسه کول ډېر وخت او لګښت غواړي.

**کلیدي کلمې:** اېکس، ټلویزیون، برېښنایي خبریالي، سوژه، سیاسي خبریالان

Ahmad Reshad Azimi[1], Muhammad Shafiq Wardak[2], Najibullah Lalzoy[3]

## Abstract

In digital communications, social media play a significant role in transforming the flow of information and shaping journalists' access to news sources. This study aims to examine the relationship between the use of X and news topic selection by political journalists working in private television networks in Kabul. This study adopts a survey-based research design, employing stratified sampling for participant selection. Data were collected using a standardized questionnaire consisting of 13 items measured on a five-point scale. After repeated testing, the questionnaire was assessed for reliability using Cronbach's alpha in SPSS (2018), yielding a coefficient of 0.8. The collected data were analyzed using SPSS software. The use of X in the journalistic process enables journalists to obtain timely information more rapidly than through other sources and to select news topics for their reports accordingly. Neglecting the use of this platform leads journalists to face adverse outcomes in terms of access to information and topic selection. The use of X by political journalists in private television networks in Kabul provides them with the opportunity to produce faster and more comprehensive reports, as it allows access to individuals and sources that would otherwise require considerable time and financial resources to reach through traditional means.

**Keywords**: Digital Journalism, News topic, Political journalist, Television, X

**ارجاع:** عظیمی، احمدرشاد، وردک، محمد شفیق، لعل زوی، نجیب‌الله. (۱۴۰۴). **د سیاسي برخې د خبریالانو له لوري د راپورونو د سوژو په ټاکلو کې د اېکس ټولنیزې شبکې د کارونې ارزونه (ځانګړې مطالعه، د کابل د خصوصي ټلویزیونونو خبریالان، ۱۴۰۳).** رڼا علمی-څېړنیزه‌ژورنال، نهمه دوره، څلورمه ګڼه، صص ۹۱-۱۱۰.

Citaion: Azimi, Ahmad Reshad; Wardak, Muhammad Shafiq, Lalzoy, Najibullah. (2026). **An Assessment of Political Journalists' Use of X in Television News Topic Selection (Political journalists of Kabul's private TV stations, 1403)**. Rana Academic & Research Journal. Volume 9, Issue 4, Pp 91-110.

[1] راډیو او ټلویزیون، رڼا پوهنتون، (najiblalzoy95@gmail.com)
[2] پوهاند، رتباطات او ژورنالیزم پوهنځی، کابل پوهنتون، (shafiq21092@gmail.com)
[3] رادیو تلویزیون، رڼا پوهنتون، (reshad.azimi02@gmail.com )

[1] Radio and Television, Rana University, (najiblalzoy95@gmail.com)
[2] Professor, Communication and Journalis, Kaubl University, (shafiq21092@gmail.com)
[3] Radio and Television, Rana University, (reshad.azimi02@gmail.com)

## ۱. سریزه

د برېښنايي اړيکو په اوسني وخت کې خواله رسنۍ د اطلاعاتو جريان په بدلولو او خبري سرچينو ته د خبريالانو د لاسرسي په څرنګوالي کې پراخ رول لري. خواله رسنۍ د يوې سرچينې په توګه خبريالانو ته دا فرصت ورکړی، چې د نورو ټولنو مخکښو غړو ته او په نړۍ کې هغو خلکو او سيمو ته لاسرسی ولري، چې له دوی ډېر لرې دي.

اوس مهال خواله رسنۍ د خبريالانو له لوري د موضوعاتو څېړلو او ځارلو لپاره لويه سرچينه ده، د دې پلټفورمونو په واسطه خبريالان کولای شي تر نورو خلکو خبرونه ورسوي او يا هم د راپورونو جوړولو لپاره ترې سوژې انتخاب کړي.

په دغه برخه کې يوه څېړنه ترسره شوې او ۴۸ سلنه خبريالانو ويلي چې له خواله رسنيو پرته خبريالي نشي کولی؛ خو ۵۱ سلنه خبريالانو بيا وېره ښودلې چې پر خواله رسنيو له خپرېدونکو ناسمو اطلاعاتو وېره لري او پرې باور نشي کولی (Gerret von Nordheim, 2018: 2-3).

د خبريالانو له لوري د سرچينې په توګه د خواله رسنيو کارونه د خبريالانو او د هغوی سرچينو ترمنځ اړيکې بدلوي. په دوديز ډول، خبريالان له خپلو سرچينوسره اړيکې ټينګوي. کله چې سوژې له خواله رسنيو په تېره له ايکس څخه اخيستل کېږي، خبريالان به د تېر په څېر له سرچينو سره په اړيکه کې نه وي، نو د خبرونو او راپورونو لپاره د سوژو د ټاکلو دا بهير له پخواني او دوديز هغه سره په سختۍ د پرتلې وړ دی(Sanja Kapidzic, 2022: 3) .

د دې څېړنې محوري موضوع دا ده، چې څنګه په کابل کې د خصوصي ټلويزيونونو خبريالان د خپلو ورځنيو راپورونو چمتو کولو لپاره پر ايکس متکي دي او له دغه پلټفورم د خپلو راپورونو لپاره سوژې ټاکي. دا چې د ۲۰۱۰ او ۲۰۲۰ کلونو ترمنځ ايکس له انسټاګرام سره په ډېر لږ توپير په افغانستان کې تر ټولو ډېره کارېدونکې خواله رسنۍ ده او کارونکي يې تر ډېره د سياسي اطلاعاتو خپرولو او کارولو لپاره کاروي، په اړه يې هېڅ علمي څېړنه نه ده شوې.

په دې برخه کې شوې څېړنې ښيي، چې څنګه خبريالان د خپلو راپورونو لپاره له ايکس څخه سوژې ټاکي او د خبري سرچينو په توګه يې کاروي، په دې څېړنه کې هڅه شوې چې ومومي په کابل کې د خصوصي ټلويزيونونو خبريالان څنګه ايکس د خپل کاري بهير برخه ګرځولې ده.

د څېړنې موخه دا ده، چې په خبريالۍ او په تېره بيا د خبر راټولولو په بهير کې د افغان خبريالانو له لوري د ايکس کارولو کچه او څرنګوالی د يوې علمي څېړنې په مرسته مستند شي، ترڅو له

يوه اړخه د خبر خونو له مسوولينو سره مرسته وکړي او پر ايکس ډېر متمرکز شي او نويو خبريالانو ته يې د مسلکي کارونې سپارښتنې وکړي.

له بلې خوا په هېواد کې د ژورناليزم زده کړې بنسټونو لپاره هم د يوې علمي څېړنې په توګه ور ياده شي، چې د خبريالۍ په اوسني وخت کې خواله رسنۍ په ځانګړې توګه ايکس ډېر مهم دی نو د همدې له امله يې د درسي نصاب برخه وګرځوي.

څېړونکی داسې فرض کوي چې، د کابل خصوصي تلويزيونونو د سياسي برخې خبريالانو له لوري د ايکس کارولو او د سياسي راپورونو لپاره د سوژو ټاکلو ترمنځ معنا لرونکې اړيکه شته. په دې معنا، که د کابل خصوصي تلويزيونونو د سياسي برخې خبريالان له ايکس ګټه اخلي، د خپلو ورځنيو سياسي راپورونو لپاره به سوژې هم پيدا کوي؛ خو که دا ډله خبريالان له ايکس لرې پاتې کېږي او ګټه ترې نه اخلي، د سياسي راپورونو لپاره به سوژې و نه لري او يا به يې د نورو خبريالانو په پرتله لږې ولري.

دا څېړنه د سروې ميتود پر بنسټ ترسره شوې، سروې ميتود معمولاً د نمونې له ټاکلو او د ټاکلو پوښتنو طرح کولو سره چې د اماري ټولنې ښکارندوی وي پيلېږي.

په دا ډول څېړنو کې هڅه کېږي، چې ځواب ويونکي وکولای شي پوښتنو په ښکاره ځوابونه ووايي.

له دې امله، د سروې ميتود اصلي تمرکز پر عقايدو، فردي او ټولنيزو ځانګړتياوو، د ژوند پر شرايطو او نورو هغو مقولو دی، چې د ټولنې افراد له يو بله جلا کوي (تدر ۱۳۸۱).

دا څېړنه ځکه علمي ارزښت لري چې له دې وړاندې په ياده برخه کې کوم کار نه دی شوی او دا لومړنۍ علمي هڅه ده، چې په دې برخه کې ترسره کېږي او دا به د هېواد د رسنيو او علمي ډګرونو لپاره چې خبريالي تدريسوي هم د ارزښت وړ وي.

د دې څېړنې پايلې به د خبرونو له مديرانو او خبريالانو سره مرسته وکړي ترڅو ايکس ته جدي کتنه وکړي او د خپل کار يو مهمه برخه يې وګرځوي، علمي بنسټونه به له دې څېړنې په الهام اخيستنې سره نه يوازې په خپلو درسي نصابونو کې د ايکس په څېر د خواله رسنيو تدريس شامل کړي؛ بلکې دا څېړنه به د لا نورو اړوندو علمي څېړنو پيلامه شي ترڅو د هېواد علمي برخې د بډاينې لامل وګرځي.



رنا
علمي-څېړنيزه ژورنال
۹ دوره، ۴ ګڼه
د ۱۴۰۴ کال ژمی

رنا
علمي-څېړنیزه ژورنال
۹ دوره، ۴ ګڼه
د ۱۴۰۴ کال ژمی

## ۲. نظري چوکاټ

خبریالان د انټرنټ، ورځپاڼو، ټلویزیوني او راډیویي خبرونو، خبري مجلو او خپلو سرچینو له لارې د اطلاعاتو په سېلاب کې راګېر دي. د دوی دنده دا ده، چې د دې اطلاعاتو له منځه هغه مهمه برخه را واخلي او د خبر په توګه یې وړاندې کړي او دا کار پرته د خبرونو له ایډیټر څخه ناشونی دی.

دروازه وانۍ (Gatekeeping)هغه بهیر ته ویل کېږي، چې په ترڅ کې یې معلومات د خبر په توګه د خپرېدو لپاره ټاکل، لیکل، ایډیټ، تنظیم، ځای پر ځای او مهالوېش کېږي او بیا په بېلابېلو بڼو وړاندې او خپرېږي، څرنګه چې دروازه وانۍ د نورو خلکو لپاره د نړۍ انځور او واقعیتونه انځوروي، نو د رسنیو او اړیکو د علومو څېړونکو لپاره اړینه ده، چې د دروازه وانۍ بهیر او پر عامه افکارو او ذهنیتونو د هغې اغېزې په سمه توګه درک او وڅېړي. (Craig, 2009)

د خبرونو سمون او ایډیټ لپاره باید داسې کسان وګومارل شي، چې د رسنیو تګلارې او یا د خواله رسنیو الګوریتمونه و اوسي او دا وټاکي چې کومه موضوع خبري ارزښت لري، د خبر کومه برخه لرې یا جوته شي او کوم اطلاعات له پامه وغورځول شي.

فردي عوامل لکه د خبریالانو یا مدیرانو تجربې، سازماني عوامل لکه د رسنیو تګلارې او ارزښتونه، اقتصادي عوامل لکه مالي او تبلیغاتي فشارونه، فرهنګي او سیاسي عوامل لکه د ټولنې ارزښتونه او د حکومتونو محدودیتونه، ټکنالوژیک عوامل لکه د الګوریتمونو رول او د منځپانګې په ټاکنه کې برېښنایي پلټفورمونه په دې بهیر کې ښکېل دي.

اوس مهال د خواله رسنیو کاروونکي هم د خبرونو غوره کوونکي بلل کېږي، ځکه د منځپانګې په خوښولو، پر هغوی د تبصرې کولو او له نورو سره یې د شریکولو له بهیر سره مرسته کوي، په فیسبوک او ایکس کې د مصنوعي ځیرکتیا الګوریتمونه هم د اطلاعاتو د لوري په ټاکنه کې رول لري.

په دې څېړنه کې د خبرونو د سمون او ایډیټ له نظریې څخه استفاده شوې چې خبریالان، په ځانګړې ډول د سیاسي برخې خبریالان، په ډیجیټل عصر کې له بې ساري کچې معلوماتو سره مخ دي.

خواله رسنۍ، په تېره بیا ایکس، چې د سیاسي خبرونو، رسمي څرګندونو او عامه بحثونو تر ټولو لویه او ډېره کارېدونکې خواله رسنۍ بلل کېږي، هره شېبه پراخ، پاشلي او متنوع معلومات خپروي.

رنا
علمی-څېړنیزه‌ژورنال
۹ دوره، ۴ ګڼه
د ۱۴۰۴ کال ژمی

دا اطلاعات په څلورویشت ساعته توګه تولیدېږي او د بېلابېلو سرچینو له خوا خپرېږي، چې دا چاره د خبریالانو لپاره هم فرصت رامنځته کوي او هم جدي ننګونه.

د کابل خصوصي ټلویزیونونو د سیاسي برخې خبریالان د دغو پراخو او پاشلو پرلیکه معلوماتو د چاڼ لپاره د خبرونو غوره کوونکي حیثیت لري.

دوی اړ دي چې د ایکس له ګڼو پوستونو، اعلامیو، غبرګونونو او غیررسمي معلوماتو څخه هغه محدود شمېر سوژې د خپلو سیاسي راپورونو لپاره غوره کړي، چې د خبري ارزښتونو، د رسنۍ د پالیسۍ او سیاسي وضعیت له پلوه د راپور وړ وي.

په دې لومړي پړاو کې، خبریالان د خبرونو غوره کوونکو په توګه خپل رول ادا کوي؛ یعنې پرېکړه کوي چې کوم معلومات د خبر خونې تر دروازې ورسېږي او کوم یو یې له پامه وغورځول شي.

خبریالان اوس یوازې له ایکس څخه د خبرونو او سوژو له سېلاب سره مخ دي او دوی اړ دي، چې له دې سېلاب څخه د اړتیا وړ او د خپلو مخاطبانو د خوښې وړ خبرونه او سوژې وټاکي او خپرې یې کړي.

### ۳. د څېړنې ادبیات

اوسمهال ایکس نه یوازې خواله رسنۍ پاتې شوې بلکې د اصلي رسنیو یوه ډېره مهمه برخه هم ګرځېدلې ده.

اصلي رسنۍ او خبریالان نه یوازې پردې پرلیکه پلټفورم خپل خبرونه او راپورونه خپروي بلکې له دې څخه خبرونه او خبري سوژې هم ترلاسه کوي.

د سرچینو او تاییدولو لپاره د خبریالانو له لوري د خواله رسنیو کارونې په نوم د اوکلاهوما پوهنتون د ماسټرۍ پروګرام څخه د فارغ شوي (BILAL, 2023) ښودلې چې خواله رسنۍ اوس د خبریالانو لپاره د خبرونو او اطلاعاتو راټولولو او د وضعیت د څارلو په موخه غوره وسیلې ګرځېدلې دي.

اوسمهال خبریالان د خواله رسنیو په مرسته د پام وړ اطلاعاتو ته لاسرسی لري او له هغو څخه کولای شي اطلاعات راټول کړي او په خپلو راپورونو کې یې وکاروي. چې د نورو سرچینو ترڅنګ ورته یوه بله اضافي سرچینه ګرځېدلې ده. خبریالانوخواله رسنۍ د خپلو سرچینو برخه ګرځولې، د ورځپاڼو او ټلویزیونونو دواړو خبریالانو له ایکس د همدې موخې لپاره ګټه اخلي

خو د ټلویزیون خبریالان پرې د ورځپاڼو په پرتله ډېر متکي دي او د ټلویزیون خبریالان له ایکس اوس د مستقیمې سرچینې په توګه استفاده کوي، ځکه د ورځپاڼو خبریالان ډېر وخت لري.

ایرلنډ هېواد کې په دې اړه څېړنې شوې او ښودلې یې ده چې په تېرو څو کلونو کې خواله رسنۍ په تېره بیا ایکس د خبر خونو له لوري ډېر کارېږي او دا پلټفورم اوس د خبریالانو د کاري وسایلو یو نه بېلېدونکې وسیله ګرځېدلې ده.

خبریالان دغه پلټفورم په بېلابېلو بڼو کاروي: هغوی د بېړنیو خبرونو او منځپانګو د څار لپاره ټولنیزې شبکې کاروي، سرچینې او عیني شاهدان پرې مومي او د هغې د پراخ لاسرسي له لارې د خبر وړ پېښو په اړه د خلکو بېلابېل نظرونه راټولوي. سربېره پردې، دوی خواله رسنۍ د خپرونو د ترویج، د لیدونکو د جذب او خپلو شخصي یا مسلکي وېبپاڼو ته د ودې ورکولو لپاره هم کاروي. د خواله رسنۍ له لارې خپرېدونکې منځپانګه که څه هم د کیفیت له پلوه تر پوښتنې لاندې ده، خو د حجم، ډولونو او چټکتیا له پلوه بې‌ساری ارزښت لري او د مسلکي خبریالانو لخوا د راپورونو لپاره د اطلاعاتو راټولولو او خپرولو دود یې بدل کړی دی. په دودیزو او اصلي رسنیو کې اطلاعات زیاتره له «رسمي ادرسونو» او «اداري ځانګو» تر لاسه کېدل.

هلته به خبریالان په ادارو کې ځای پر ځای کېدل او اطلاعات یې له «کارپوهانو» اخیستل. رسمي سرچینې معمولاً د پېژندل شویو ادارو د مطبوعاتي اعلامیو، د باوري خبري اژانسونو د خبرونو او له چارواکو او کارپوهانو سره د مرکو په بڼه وې. خو دغه دودیز چلن د خواله رسنیو او د کاروونکو د منځپانګې د زیاتېدو سره بدلون مومي؛ خواله رسنۍ، په تېره بیا ایکس، اوس په چټکه توګه د اطلاعاتو او بېړنیو خبرونو په خپرولو کې یوه مهمه سرچینه ده (Harrower, Twitter journalism in Ireland: sourcing and trust in the age of social media, 2016: 7)..

د افریقا په ګانا هېواد کې د ایکس، انسټاګرام او وېبپاڼې په اړه په ۲۰۱۹ کال کې یوه څېړنه شوې وه او د څېړنې ټولو ګډونوالو دا منلې وه چې د اصلي رسنیو خبریالان له خواله رسنیو څخه د خبري سرچینو په توګه کار اخلي. یوازېنی توپیر ښایي دا وي، چې خواله رسنۍ د دغو خبریالانو د خپرېدا پر مهالوېش اغېز وکړي.

خبریالان خواله رسنیو ته د خبرونو یوې سرچینې په توګه ګوري ځکه ډېری هغه کسان چې خبریالان یې خبر جوړونکي یا خبري څېرې بولي په خواله رسنیو کې موجودې دي. د (Yen.com.gh) ایډیټر و ویل: په حقیقت کې، خواله رسنۍ زموږ لپاره د تفریحي خبرونو لومړۍ


رنا
علمي-څېړنیزه ژورنال
۹ دوره، ۴ ګڼه
د ۱۴۰۴ کال ژمی

سرچینه ده. د ډیجیټل په اوسني وخت کې تاسو له هر څه خبرېږئ، عدي څیزونه بدل شوي او هر څه په ډیجیټل وخت کې تکامل مومي، خواله رسنۍ د خبرونو لپاره زموږ له لومړنیو سرچینو دي. ځکه د هر هغه څه یا شخصیتونو په اړه چې موږ لیکنې کوو، هماغوی په حقیقت کې خبرونه جوړوي نو صحت او د خبرونو تایید یې هم اسانه دی. موږ نبغ په نبغه د هغوی د خواله رسنیو ادرسونو ته ورځو او ګورو چې خبر کره سرچینې یا هغوی ته نږدې سرچینو خپور کړی دی او که نه (Tshabalala, 2022: 73-75) .

## ۴. د څېړنې میتود

هره علمي څېړنه دې ته اړتیا لري چې د څېړنې د ترسره کولو لپاره یو مناسب میتود، ټاکلي وسایل او د پلې کېدو چارچوب ولري. د یوې دقیقې او معتبرې څېړنې لپاره اړتیا ده، چې څېړونکی په پیل کې، موضوع، میتود، مخاطب او د وسایلو د اجرایي کولو شرایط په ښه روښانه ډول وټاکي. د څېړنې میتود ټاکل هم د موضوع، موخو، فرضیو او د پلي کېدو شته امکاناتو په څېر بېلابېلو عواملو ته ورګرځي.

دا څېړنه د سروې میتود پر بنسټ شوې. سروې میتود معمولاً د نمونې له ټاکلو او د ټاکلو پوښتنو طرح کولو سره چې د اماري ټولنې ښکارندوی وي پیلیږي. په دا ډول څېړنو کې هڅه کیږي چې داسې پوښتنو ته ځوابونه پیدا شي چې ځواب ویونکي (د څېړنې د اماري ټولنې غړي) وکولی شي هغوی ته ښکاره ځوابونه وړاندې کړي. له دې امله، د سروې څېړنو اصلي تمرکز پر عقایدو، فردي او ټولنیزو ځانګړتیاو، د ژوند پر شرایطو او نورو هغو مقولو دی چې د ټولنې افراد له یو بله جلا کوي (بیکر، ۱۳۸٦: ۲۴).

سروې څېړنه د اطلاعاتو راټولولو یو میتود دی او په هغه کې له یوې ټاکلې ډلې غوښتنه کیږي، چې یو څو داسې مشخصو پوښتنو ته چې ټولو اشخاصو ته په مساوي ډول وړاندې شوې وي ځواب ووایي. د پوښتنو دا ځوابونه په حقیقت کې د څېړنې اطلاعات تشکیلوي. سروې څېړنه د ټولنیزو څېړنو له عامو ډولونو څخه ده. د پوښتنپاڼو په مرسته د اطلاعاتو راټولول یوه ساده او اسانه لار ده، خو ډېری پوښتنې ځواب نه لري او ځینې پوښتنې ښایي سمې ځواب نشي او دا امکان هم شته چې پوښتنه په سم ډول مطرح نشي او په پایله کې یې ناسم اطلاعات ترلاسه شي. د سروې څېړنه له دغه ډول احتمالاتو سره مخ ده. نو په داسې حالاتو کې نشو کولی چې ډېری موضوعات یوازې له پوښتلو سره پر څېړنې بدل کړو. څېړونکي کله هم د داسې یوې ازموینې ترسره کول چې د

څېړنې د اساسي غوښتنو ځواب ویلو ته مناسب وي ستونزمن او له امکان لرې بولي (پرهيزگار و افروزی، ۱۳۹۰: ۲۹۷).

د دې څېړنې اماري ټولنه چې په کابل کې د خصوصي ټلویزیونونو سیاسي خبریالان دي، په هدفمنه توګه د داسې ډلې له منځه غوره شوې، چې د څېړنې له موضوع او د هغوی تخصص سره مستقیمه اړیکه لري، د دې څېړنې په اماري ټولنه کې په کابل ښار کې د خصوصي ټلویزیونونو د سیاسي برخې خبریالان او د خبرونو مدیران ټاکل شوي دي. د دې ډلې ټاکنه هغوی ته د لاسرسي، د ارزونې وړ موضوع د هغوی تخصص او اندونو د تنوع پر بنسټ شوې ده.

په ټوله کې، د دې څېړنې د اماري ټولنې د غړو شمېر له هغو مواردو سره برابر دی چې لاندې به یې د نمونه اخیستنې بهیر او د هغوی د ټاکلو څرنګوالی په تفصیلي توګه تشریح شي.

په دې څېړنه کې د اړتیا وړ اطلاعاتو د راټولولو لپاره، له هدفمنې غیر احتمالي نمونه اخیستنې استفاده شوې ده. د غیر احتمالي بېلګې اخیستنې په میتودونو کې، د احتمالي بېلګې اخیستنې په خلاف د اماري ټولنې ټول غړي د ټاکل کېدو لپاره برابر او یو ډول فرصت نه لري؛ بلکې افراد د ځانګړنو او د څېړونکي د اګاهانه پرېکړو پر بنسټ ټاکل کېږي (دلاور، ۱۳۸۵: ۹۷). هدفمنه بېلګه اخیستنه د غیر احتمالي نمونه اخیستنې یو له دوامداره ډولونو څخه دی، چې په کیفي څېړنو او پر ځینو ځانګړو کمي څېړنو کې په پراخه کچه کارېږي.

په دې میتود کې، څېړونکی د خپل مسلکي قضاوت او پخوانۍ پوهې پر بنسټ، داسې کسان ټاکي چې د څېړنې له موخو سره تر ټولو ډېر تړاو ولري (پاتون، ۲۰۰۲: ۱۳۹).

د دغې څېړنې د اطلاعاتو راټولولو لپاره د ریټیکس له یوې سټنډرډې پوښتنپاڼې استفاده شوې، چې ۱۳ پوښتنې پکې دي. دا پوښتنپاڼې په درې برخو کې طرحه شوې دي، چې له ودې، نوښت او ژمنتیا څخه عبارت دي. څېړونکو وروسته له هغې چې د دې پوښتنپاڼې لومړۍ نسخه ترلاسه کړه، هغه یې له علمي اړخه و ارزوله او د پوښتنپاڼې د منځپانګې ارزونې په موخه یې د څو استادانو او د ارتباطاتو علومو له متخصصینو سره یې شریکه کړه.

د پوښتنپاڼې د ارزونې په موخه، د ۳۰ کسانو پر نمونې لومړنۍ ازموینه ترسره شوه، ورپسې د SPSS)۲۰۱۸) سافټویر په کارولو سره د کرانباخ الفا ضریب محاسبه شو. له محاسبې وروسته ترلاسه شوې شمېرې له (۰.۸۲) سره برابرې وې، چې د ټولنیزو علومو اړوند څېړنو لپاره د منلو وړ (۰.۷)

شخه لوړې دي، لاسته راغلې شمېرې دا ښيي چې د پوښتنپاڼې د ننه مطلوب انسجام موجود دی او د څېړنې معلوماتو د راټولولو لپاره اعتبار لري.

## د څېړنې موندنې

### د ځواب ویوونکو جنسیت

لاندې جدول د ګډونوالو د جنسیت په اړه د هغوی د وګړپوهنیزو (ډیموګرافیک) اطلاعاتو د تحلیل پر بنسټ چمتو شوی دی.

*د ۱-۱ جدول د ځواب ویوونکو جنسیت ښيي*

| جنسیت | | | |
|---|---|---|---|
| | زیاتوالی | سلنې | ټولیزه سلنه |
| ښځې | ۱۳ | ۲۵.۵ | ۲۵.۵ |
| سړي | ۳۸ | ۷۴.۵ | ۷۴.۵ |
| ټولټال | ۵۱ | ۱۰۰.۰ | ۱۰۰.۰ |

لکه څرنګه چې په (۱-۱) جدول کې ښکاري، ګډونوال د جنسیت له مخې سره جلا شوي دي. له ټولو ۵۱ تنو ځواب ویوونکو څخه، ۱۳ تنه یې ښځې او پاتې ۳۸ تنه یې نارینه دي، چې د ژورنالیستانو په توګه په بېلابېلو رسنیزو فعالیتونو بوخت دي.

### د ځواب ویوونکو تحصیلي کچه

لاندې جدول د ګډونوالو د زده کړې کچې (تحصیلي درجې) په اړه د هغوی د وګړپوهنیزو (ډیموګرافیک) اطلاعاتو د تحلیل پر بنسټ چمتو شوی دی.

*د ۲-۱ جدول د ځواب ویوونکو تحصیلي کچه ښيي*

| | زیاتوالی | سلنه | ټولیزه سلنه |
|---|---|---|---|
| لیسانس | ۴۱ | ۸۰.۴ | ۸۰.۴ |
| ماستر | ۱۰ | ۱۹.٦ | ۱۹.٦ |
| ټولټال | ۵۱ | ۱۰۰.۰ | ۱۰۰.۰ |

پورته جدول کې ګډون کوونکي د پوښتنلیک د ځواب لپاره ټاکل شوي دي. له ۵۱ تنو ګډونوالو څخه، ۴۱ تنه د ژورنالیزم لیسانس او پاتې ۱۰ تنه نور یې د ژورنالیزم ماستري سند لرونکي دي.

### د ځواب ویوونکو عمر

لاندې جدول د ګډونوالو د وګړپوهنیزو (ډیموګرافیک) اطلاعاتو د تحلیل پر بنسټ د هغوی سن یا عمر څرګندوي.



رنا
علمي-څېړنیزه‌ژورنال
۹ دوره، ۴ ګڼه
د ۱۴۰۴ کال ژمی

*د ۳-۱ جدول د ځواب ویوونکو عمر ښیي*

| عمر | زیاتوالی | سلنه | ټولیزه سلنه |
|---|---|---|---|
| له ۲۵ کلونو کم عمر | ۴ | ۷.۸ | ۷.۸ |
| د ۲۵-۳۵ کلونو ترمنځ | ۲۴ | ۴۷.۱ | ۴۷.۱ |
| د ۳۶-۴۵ کلونو ترمنځ | ۱۷ | ۳۳.۳ | ۳۳.۳ |
| له ۴۵ کلونو زیات عمر | ٦ | ۱۱.۸ | ۱۱.۸ |
| ټولټال | ۵۱ | ۱۰۰.۰ | ۱۰۰.۰ |

لکه څرنګه چې په (۳-۱) جدول کې لیدل کېږي، له ۵۱ تنو ګډونوالو څخه، ۴ تنه له ۲۵ کلونو کم عمر لري. ۲۴ تنه د ۲۵ څخه تر ۳۵ کلونو عمر لري. ۱۷ تنه، د ۳٦ څخه تر ۴۵ کلونو دي او یوازې ٦ ګډونوال له ۴۵ کلونو لوړ عمر لري. د ترلاسه شویو اطلاعاتو پر بنسټ د ګډونوالو د عمر ځانګړتیاوې ښیي چې تر ټولو ډېره پېښېدنه د ۲۵ څخه تر ۳۵ کلونو عمر لرونکو کسانو کې ده. د دې عمر ډلې لوړ سلنه د دې څېړنې د موخه ییزد ځواب ویونکو، دقت او د پایلو د اعتبار څرګندونه کوي.

**د ځواب ویوونکو کاري تجربه**

لاندې جدول د ګډونوالو د وګړپوهنیزو ځانګړتیاوو د تحلیل پر بنسټ د هغوی د تحصیلي کچې وضعیت څرګندوي.

*د (۴-۱) جدول د ځواب ویوونکو د کاري تجربې ښودنه کوي.*

| کاري تجربه | زیاتوالی | سلنه | ټولیزه سلنه |
|---|---|---|---|
| تر ۳ کلونو کم | ۸ | ۱۵.۷ | ۱۵.۷ |
| له ۳ تر ۵ کلونو | ۲۴ | ۴۷.۱ | ۴۷.۱ |
| څه باندې ۵ کاله | ۱۹ | ۳۷.۷ | ۳۷.۷ |
| ټولټال | ۵۱ | ۱۰۰.۰ | ۱۰۰.۰ |

د (۴-۱) جدول د ګډونوالو د رسنیزو فعالیتونو په برخه کې د کاري تجربو ښودنه کوي، چې د دې څېړنې ته یې ځواب ورکړی دی. د جدول د موندنو پر بنسټ، له ۵۱ تنو ګډونوالو څخه، ۸ تنه په خصوصي رسنیو کې له ۳ کلونو لږه کاري تجربه لري. ۲۴ تنه د ۳ څخه تر ۵ کلونو کاري تجربه لري او ۱۹ تنه له ۵ کلونو ډېره کاري تجربه لري. د ترلاسه شویو اطلاعاتو پر بنسټ، د دې څېړنې ډېری ګډونوال هغه ژورنالیستان دي، چې له ۳ تر ۵ کلونو په خبر او راپور ورکولو کې کار کړی او ښه مسلکي تجربه لري.

### په څېړنه کې تر ارزونې لاندې رسنۍ

لاندې جدول د دې څېړنې د ګډونوالو د رسنیو د اطلاعاتو د تشریحي (توصیفي) اطلاعاتو د تحلیل پر بنسټ چمتو شوی دی.

*د (۵-۱) جدول د ځواب ویوونکو د رسنیزو بنسټونو د اطلاعاتو ښودنه کوي*

| بنسټونه | سلنه | ټولیزه سلنه | |
|---|---|---|---|
| طلوع نیوز | ۸ | ۱۵.۷ | ۱۵.۷ |
| اریانانیوز | ٦ | ۱۱.۸ | ۱۱.۸ |
| یک ټلویزیون | ۸ | ۱۵.۷ | ۱۵.۷ |
| شمشاد | ۷ | ۱۳.۷ | ۱۳.۷ |
| اروز | ٦ | ۱۱.۸ | ۱۱.۸ |
| د راه فردا راډیوټلویزیون | ۷ | ۱۳.۷ | ۱۳.۷ |
| د تمدن تلویزیون | ۴ | ۷.۸ | ۷.۸ |
| ژوندون ټلویزیون | ۵ | ۹.۸ | ۹.۸ |
| ټولټال | ۵۱ | ۱۰۰.۰ | ۱۰۰.۰ |

د (۵-۱) جدول د ګډونوالو څرګندونه کوي، چې د کابل له کومو خصوصي ټلویزیونونو سره تړاو لري. د جدول د اطلاعاتو له مخې، له ۵۱ تنو ګډونوالو څخه، ۸ تنه د طلوع نیوز، ٦ تنه د اریانا نیوز، ۸ تنه د «ټلویزیون یک»، ۷ تنه د شمشاد، ٦ تنه د ارزو، ۷ تنه د راه فردا، ۴ تنه د تمدن او ۵ تنه د ژوندون ټلویزیون خبریالان دي، چې ټولو یې د دې څېړنې پوښتنلیک ته ځوابونه ورکړي دي.

### د اطلاعاتو اماري تحلیل

مخکې له دې چې د یوې علمي څېړنې د اطلاعاتو تحلیل پیل شي، دا باید روښانه وي چې د تحلیل موخه څه ده. په بله وینا، څېړونکی باید یو عمومي درک ولري چې تحلیل څنګه ترسره کېږي او ولې دا اړین دی. هغه تحلیلونه چې ډېری وخت د ټولنیزو علومو په مجلو کې خپرېږي، د عامو لوستونکو لپاره ډېر د پوهېدو وړ نه وي. سره له دې، د اطلاعاتو په تحلیل کې د دوو مهمو ټکو یادونه اړینه ده: لومړی، څېړونکي چې دا ډول تحلیلونه ترسره کوي، خپل کار یې د ساده تحلیلي میتودونو له زده‌کړې څخه پیل کړی وي. دویم، حتی هغه څېړونکي چې له پېچلو څو-متغیري تخنیکونو څخه کار اخلي، عموماً خپل تحلیل د یو-متغیري او دوه-متغیري ابتدایي جدولونو په جوړولو پیلوي او وروسته بیا د لا پېچلو تحلیلي تخنیکونو کارولو ته مخه کوي.

په دې برخه کې، د «اېکس» ټولنیزې شبکې د کارونې او د سیاسي راپورونو د سوژې ټاکنې تر منځ اړیکه ازمویل او ارزول کېږي. د دې تحلیل موخه دا ده چې څرګنده شي ایا د کابل ښار د

خصوصي رسنيو د خبريالانو د «اېکس» شبکې کارونه له سياسي سوژو د ټاکنې سره کومه معنا لرونکې اړيکه لري او که نه. د دې کار لپاره د پيوستون ضريب ازموينه کارول کېږي. د متغييرونو ترمنځ د اړيکو سنجولو لپاره په عمده ډول دوه ډول پيوستون شتون لري: د پيرسن پيوستون ضريب – دا د هغو اطلاعاتو لپاره کاربږي، چې پارامتريک ځانګړتيا ولري، يعنې هغه اطلاعات چې د نورمال وېش تابع وي. د اسپيرمن د پيوستون ضريب؛ دا د هغو اطلاعاتو لپاره کاربږي چې د نورمال وېش ځانګړتيا ونه لري يا يې پراخوالی نورمال نه وي. له همدې امله، کله چې اطلاعات د نورمال وېش تابع نه وي، د ناپارامتريک ازموينو څخه ګټه اخيستل کېږي. د اطلاعاتو د نورمال يا غير نورمال وېش د معلومولو لپاره د کولموګروف سميرنوف ازموينه کارول کېږي.

*د (٦-١) جدول د راپور د سوژې په ټاکنه کې د مسلکي تجربو د اغېز ښودنه کوي*

| درېځ | سلنه | ټوليزه سلنه | زياتوالی |
|---|---|---|---|
| مخالف يم | ١ | ٢.٠ | ٢.٠ |
| منځمهالی | ۴ | ٧.٨ | ٧.٨ |
| موافق يم | ٢٣ | ۴٥.١ | ۴٥.١ |
| بشپړموافق يم | ٢٣ | ۴٥.١ | ۴٥.١ |
| ټولټال | ٥١ | ١٠٠.٠ | ١٠٠.٠ |

د (٦-١) جدول د اطلاعاتو له مخې، له ٥١ ګډونوالو، ١ «مخالف» ځواب ورکړی، ۴ تنو «منځنی» ځواب ورکړی، ٢٣ تنو «موافق» ځواب ورکړی، ٢٣ تنو «بشپړ موافق» ځواب ورکړی. د دې جدول د موندنو پر بنسټ، څرګنده ده چې د خبريالانو مسلکي تجربه د خبرونو، په ځانګړي ډول سياسي راپورونو د سوژو په ټاکنه اغېز لري.

*د(٧-١) جدول د سياسي راپورونو د سوژو په ټاکنه کې د سياسي نظريو رول ښيي*

| | زياتوالی | سلنې | ټوليزه سلنه |
|---|---|---|---|
| مخالف يم | ١ | ٢.٠ | ٢.٠ |
| منځمهالی | ۴ | ٧.٨ | ٧.٨ |
| موافق يم | ٢۴ | ۴٥.٢ | ۴٥.٢ |
| بشپړ موافق يم | ٢٣ | ۴٥.٠ | ۴٥.٠ |
| ټولټال | ٥١ | ١٠٠.٠ | ١٠٠.٠ |

د (٧-١) جدول د اطلاعاتو له مخې، له ٥١ ګډونوالو، يو تن يې په بشپړه توګه مخالف، څلور تنو يې منځنی ځواب، ٢۴ تنو يې موافق او ٢٣ تنو يې په بشپړه توګه موافق ځواب ورکړی.

د دې جدول د موندنو پر بنسټ، ډېری ګډونوال باور لري چې د خبريالانو سياسي او ځانګړي ليدلوري په رسنيزو سازمانونو کې د خبري سوژو په ټاکنه اغېز لري او د خبريالانو سياسي تمايلات او ځانګړي ليدلوري په مستقيم ډول د سوژو پر ټاکنې اغېز کوي.

*د (۸-۱) جدول د مخکښې پوهاوي له لارې د سیاسي سوژو د لومړیتوب ورکونې څرګندونه*

| | زیاتوالی | سلنه | ټولیزه سلنه |
|---|---|---|---|
| بشپړ مخالف یم | ۷ | ۱۳.۷ | ۱۳.۷ |
| مخالف یم | ۴ | ۷.۸ | ۷.۸ |
| منځمهالی | ٦ | ۱۱.۸ | ۱۱.۸ |
| موافق یم | ۲۷ | ۵۲.۹ | ۵۲.۹ |
| بشپړ موافق یم | ۷ | ۱۳.۷ | ۱۳.۷ |
| ټولټال | ۵۱ | ۱۰۰.۰ | ۱۰۰.۰ |

د (۸-۱) جدول د اطلاعاتو له مخې، له ۵۱ ګډونوالو، ۷ تنه په بشپړه توګه مخالف، ۴ تنه مخالف، ٦ تنه نظر نه لري، ۲۷ تنه موافق او ۷ تنه په بشپړه توګه موافق دي. د دې جدول د موندنو پر بنسټ، ډېری ګډونوال باور لري، چې د خبریالانو مخکښې پېژندګلوي له سیاسي موضوعاتو سره د سوژو په ټاکنه کې لومړیتوب رامنځته کوي.

*د (۹-۱) جدول د راپور د سوژې په ټاکنه کې د «ایکس» شبکې د موجودو اطلاعاتو اغېز نښيي*

| | زیاتوالی | سلنه | ټولیزه سلنه |
|---|---|---|---|
| بشپړ مخالف یم | ۹ | ۱۷.٦ | ۱۷.٦ |
| مخالف یم | ۹ | ۱۷.٦ | ۱۷.٦ |
| منځمهالی | ۵ | ۹.۸ | ۹.۸ |
| موافق یم | ۱۹ | ۳۷.۳ | ۳۷.۳ |
| بشپړ موافق یم | ۹ | ۱۷.٦ | ۱۷.٦ |
| ټولټال | ۵۱ | ۱۰۰.۰ | ۱۰۰.۰ |

نهم جدول د اطلاعاتو له مخې، له ۵۱ ګډونوالو، ۹ تنه په بشپړه توګه مخالف، ۹ تنه مخالف، ۵ تنه ځواب نه لري، ۱۹ تنه موافق، او ۹ تنه په بشپړه توګه موافق دي. د دې اطلاعاتو پر اساس، څرګنده شوه، چې د ایکس ټولنیزې شبکې موجود اطلاعات د افغانستان د رسنیو خبرونو او سیاسي راپورونو د سوژو په ټاکنه اغېز لري.

*د (۱۰-۱) سیاسي راپورونو د سوژو په ټاکنه کې د رسنۍ د پالیسۍ اغېز*

| | زیاتوالی | سلنه | ټولیزه سلنه |
|---|---|---|---|
| بشپړ مخالف یم | ٦ | ۱۱.۸ | ۱۱.۸ |
| مخالف یم | ۱۷ | ۳۳.۳ | ۳۳.۳ |
| منځمهالی | ۱ | ۲.۰ | ۲.۰ |
| موافق یم | ۱٦ | ۳۴.۴ | ۳۴.۴ |
| بشپړ موافق یم | ۱۱ | ۲۱.٦ | ۲۱.٦ |
| ټولټال | ۵۱ | ۱۰۰.۰ | ۱۰۰.۰ |

رنا
علمي-څېړنیزه‌ژورنال
۹ دوره، ۴ ګڼه
د ۱۴۰۴ کال ژمی

رنا
علمي-څېړنیزه ژورنال
۹ دوره، ۴ ګڼه
د ۱۴۰۴ کال ژمی

لسم جدول د ګډونوالو د شمېر او سلنې څرګندونه کوي او د ترلاسه شويو اطلاعاتو له مخې، ٦ تنه په بشپړه توګه مخالف، ۱۷ تنه مخالف، ۱ تن ځواب نه لري، ۱٦ تنه موافق او ۱۱ تنه په بشپړه توګه موافق دي. د دې اطلاعاتو پر اساس، څرګنده شوه، چې د رسنيز سازمان پالیسۍ او تګلارې په مستقیم ډول د خبرونو او سياسي راپورونو د سوژو په ټاکنه اغېز لري.

*د (۱۱-۱) جدول د خبرونو سوژو پر ټاکلو د مديرانو د پالیسيو اغېز ښيي*

| | زیاتوالی | سلنه | ټولیزه سلنه |
|---|---|---|---|
| بشپړ مخالف یم | ٦ | ۱۱.۸ | ۱۱.۸ |
| مخالف یم | ۱۷ | ۳۳.۳ | ۳۳.۳ |
| منځمهالی | ۱ | ۲.۰ | ۲.۰ |
| موافق یم | ۱٦ | ۳۱.۴ | ۳۱.۴ |
| بشپړ موافق یم | ۱۱ | ۲۱.٦ | ۲۱.٦ |
| ټولټال | ۵۱ | ۱۰۰.۰ | ۱۰۰.۰ |

یوولسم جدول د ګډونوالو د اماري اطلاعاتو څرګندونه کوي. له ۵۱ تنو ګډونوالو، ٦ تنه د بشپړ مخالف، ۱۷ تنه د مخالف، ۱ تن د ځواب نه لرم، ۱٦ تنه د موافق او ۱۱ تنه د بشپړ موافق ځوابونه لري. د دې موندنو پر اساس، ډېری ګډونوال باور لري، چې د رسنۍ مديرانو پاليسۍ په مستقيم ډول د سياسي او خبري راپورونو د سوژو په ټاکنه اغېز لري.

*د (۱۲-۴) جدول د سیاسي سوژو په ټاکنه کې د رسنیزو وسایلو او سرچینو د اغېز څرګندونه*

| | زیاتوالی | سلنه | ټولیزه سلنه |
|---|---|---|---|
| بشپړ مخالف یم | ۱ | ۲.۰ | ۲.۰ |
| مخالف یم | ۳ | ۵.۹ | ۵.۹ |
| منځمهالی | ۵ | ۹.۸ | ۹.۸ |
| موافق یم | ۲۴ | ۴۷.۱ | ۴۷.۱ |
| بشپړ موافق یم | ۱۸ | ۳۵.۳ | ۳۵.۳ |
| ټولټال | ۵۱ | ۱۰۰.۰ | ۱۰۰.۰ |

دولسم جدول د اماري اطلاعاتو څرګندونه کوي او د ټولو ځواب ویوونکو له ډلې یو تن په بشپړه توګه مخالف، درې تنه مخالف، پنځه تنه ځواب نه لري، ۲۴ تنه موافق او ۱۸ تنه په بشپړه توګه موافق دي. د دې اطلاعاتو پر اساس، ډېری ګډونوال باور لري، چې د ایکس له لارې د سیاسي راپورونو د سوژو ټاکنې اصلي علت د رسنیزو سازمانونو د اطلاعاتي سرچینو او اړینو وسایلو کمښت دی.

د (۱۳-۱) جدول رسنی له خوا د «ایکس» شبکې د فلټرېزېشن اغېز او د سوژو د ټاکنې بهیر

| | زیاتوالی | سلنه | ټولیزه سلنه |
|---|---|---|---|
| بشپړ مخالف یم | ۳ | ۵.۹ | ۵.۹ |
| مخالف یم | ۹ | ۱۷.٦ | ۱۷.٦ |
| منځمهالی | ٦ | ۱۱.۸ | ۱۱.۸ |
| موافق یم | ۲۲ | ۴۳.۱ | ۴۳.۱ |
| بشپړ موافق یم | ۱۱ | ۲۱.٦ | ۲۱.٦ |
| ټولټال | ۵۱ | ۱۰۰.۰ | ۱۰۰.۰ |

دیارلسم جدول د ګډونوالو د اماري اطلاعاتو څرګندونه کوي او د ځواب ویوونکو له ډلې، درې تنه په بشپړه توګه مخالف، نهه تنه مخالف، شپږ تنه ځواب نه لري، **۲۲** تنه موافق او **۱۱** تنه په بشپړه توګه موافق دي. د دې اطلاعاتو پر اساس، ډېری ګډونوال باور لري، چې د رسنیز سازمان له خوا د ایکس شبکې د خبرونو فلټر کول د خبرونو او سیاسي سوژو د ترلاسه کولو او ټاکنې بهیر محدودوي.

د (۱۴-۱) جدول سیاسي او خبري راپورونو د سوژو د ټاکنې په بهیر کې د مخاطبانو لېوالتیا

| | زیاتوالی | سلنه | ټولیزه سلنه |
|---|---|---|---|
| بشپړ مخالف یم | ۱ | ۲.۰ | ۲.۰ |
| مخالف یم | ۹ | ۱۷.٦ | ۱۷.٦ |
| منځمهالی | ٦ | ۱۱.۸ | ۱۱.۸ |
| موافق یم | ۲۳ | ۴۵.۱ | ۴۵.۱ |
| بشپړ موافق یم | ۱۲ | ۲۳.۵ | ۲۳.۵ |
| ټولټال | ۵۱ | ۱۰۰.۰ | ۱۰۰.۰ |

د (۱۴-۱) جدول د اماري اطلاعاتو څرګندونه کوي او ځوابونه یې داسې وېشل شوي. یو تن په بشپړه توګه مخالف، نهه تنه مخالف، شپږ تنه ځواب نه لري، **۲۳** تنه موافق او **۱۲** تنه په بشپړه توګه موافق دي. د دې جدول د موندنو پر اساس، په کابل کې ډېری خبریالان باور لري، چې د مخاطبانو علاقې او اړتیاوې د خبرونو او سیاسي راپورونو د سوژو په ټاکنه کې مهم رول لري.

د (۱۵-۱) جدول د مخاطبانو د غبرګون پر بنسټ په رسنیو کې د سیاسي سوژو د ټاکنې څرګندونه

| | زیاتوالی | سلنه | ټولیزه سلنه |
|---|---|---|---|
| بشپړ مخالف یم | ۲ | ۳.۹ | ۳.۹ |
| مخالف یم | ٦ | ۱۱.۸ | ۱۱.۸ |
| منځمهالی | ۷ | ۱۳.۷ | ۱۳.۷ |
| موافق یم | ۲۱ | ۴۱.۲ | ۴۱.۲ |
| بشپړ موافق یم | ۱۵ | ۲۹.۴ | ۲۹.۴ |
| ټولټال | ۵۱ | ۱۰۰.۰ | ۱۰۰.۰ |

د (۱-۱۵) جدول د اماري اطلاعاتو څرګندونه کوي او د اماري ټولنې له ګډونوالو دوه تنه په بشپړه توګه مخالف، او شپږ تنو مخالف ځواب ورکړی. د دې موندنو پر اساس، ځینې خبریالان باور نه لري، چې د مخاطبانو غبرګونونه د سوژو د بیاځلي ټاکنې سبب کېږي، خو پاتې ګډونوالو تحلیلونه لا څرګندوي، چې د دې فکټور اغېز په ټاکنې کې شته. پاتې اطلاعات داسې دي، اووه تنه ځواب نه لري، ۲۱ تنه موافق او ۱۵ تنه په بشپړه توګه موافق ځواب ورکړی. د دې تحلیل پر اساس، ډېری خبریالان باور لري، چې په رسنیو کې سیاسي سوژې د مخکېنیو غبرګونونو پر اساس او د تېرو سوژو په بنسټ ټاکل کېږي، که مخاطبانو نسبت د یوې سوژې زیات غبرګون وښیي، د رسنیو مدیران بیا په هغه سوژه تمرکز کوي.

*د (۱-۱٦) جدول د مخاطبانو د غبرګون پر بنسټ د سیاسي راپورونو د ټاکنې طریقه*

| | زیاتوالی | سلنه | ټولیزه سلنه |
|---|---|---|---|
| مخالف یم | ۵ | ۹.۸ | ۹.۸ |
| منځمهالی | ۱ | ۲.۰ | ۲.۰ |
| موافق یم | ۲۳ | ۴۵.۱ | ۴۵.۱ |
| بشپړ موافق یم | ۲۲ | ۴۳.۱ | ۴۳.۱ |
| ټولټال | ۵۱ | ۱۰۰.۰ | ۱۰۰.۰ |

د (۱-۱٦) جدول د اماري اطلاعاتو څرګندونه کوي او د اماري ټولنې له ګډونوالو له ډلې، ۵ تنه مخالف، ۱ تن ځواب نه لري، ۲۳ تنه موافق، ۲۲ تنه په بشپړه توګه موافق دي. د دې تحلیل پر اساس، ډېری خبریالان باور لري چې سیاسي سوژې او د هغوی د وړاندې کولو طریقه په رسنیو کې د مخاطبانو غوښتنو ته په پام سره ټاکل او وړاندې کېږي.

*د (۱-۱۷) جدول په رسنیو کې د سیاسي راپورونو د سوژو په ټاکنه کې د اډیټر رول*

| | زیاتوالی | سلنه | ټولیزه سلنه |
|---|---|---|---|
| بشپړ مخالف یم | ۱ | ۲.۰ | ۲.۰ |
| مخالف یم | ۴ | ۷.۸ | ۷.۸ |
| منځمهالی | ۴ | ۷.۸ | ۷.۸ |
| موافق یم | ۲۵ | ۴۹.۰ | ۴۹.۰ |
| بشپړ موافق یم | ۱۷ | ۳۳.۳ | ۳۳.۳ |
| ټولټال | ۵۱ | ۱۰۰.۰ | ۱۰۰.۰ |

د (۱-۱۷) جدول د اماري اطلاعاتو څرګندونه کوي. په ځوابونو کې یو تن په بشپړه توګه مخالف، څلور تنه مخالف، څلور تنه ځواب نه لري، ۲۵ تنه موافق او ۱۷ تنه په بشپړه توګه موافق دي. د دې تحلیل پر اساس، ډېری خبریالان باور لري، چې په رسنیو کې ایډیټ د سیاسي سوژو پر ټاکنه، منفي اغېز لري.

د (۱۸-۱) جدول په سیاسي راپورونو کې د سوژو د ټاکنې اغېز او خبریالانو ذهني لاملونه

| | زیاتوالی | سلنه | ټولیزه سلنه |
|---|---|---|---|
| بشپړ مخالف یم | ۷ | ۱۳.۷ | ۱۳.۷ |
| مخالف یم | ۳ | ۵.۹ | ۵.۹ |
| منځمهالی | ۲ | ۳.۹ | ۳.۹ |
| موافق یم | ۲۷ | ۵۲.۹ | ۵۲.۹ |
| بشپړ موافق یم | ۱۲ | ۲۳.۵ | ۲۳.۵ |
| ټولټال | ۵۱ | ۱۰۰.۰ | ۱۰۰.۰ |

د (۱۸-۱) جدول د اماري اطلاعاتو څرګندونه کوي او د اماري ټولنې ځوابونه داسې وېشل شوي، ۷ تنه په بشپړه توګه مخالف، ۳ تنه مخالف، ۲ تنه ځواب نه لري، ۲۷ تنه موافق او ۱۲ تنه په بشپړه توګه موافق دي.

## ۶. بحث

### د فرضیې پایلې

د (P-value = 0.000) له مخې، د خبرونو او راپورونو لپاره د سیاسي سوژو ټاکلو او د اېکس خواله رسنۍ تر منځ یوه مثبته، مانا لرونکې او پیاوړې اړیکه موجوده ده او دا ښیي، چې د دې رسنۍ کارول د خبریالانو لپاره د نویو سوژو موندلو په چټکتیا کې مرسته کوي. له بلې خوا هغه خبریالان چې له دې شبکې لره استفاده کوي، په هماغه کچه به د سیمه ییزو او نړیوالو مهمو سوژو له ترلاسه کولو به بې برخې وي.

### پایلې

د دې څېړنې پایلې ښیي چې، د اېکس خواله رسنۍ اوسمهال د خبریالۍ په فعالیتونو کې خورا مهمه ونډه لري.

د اېکس کارونه نه یوازې د اطلاعاتو ترلاسه کولو او د راپورونو لپاره د مناسبو سوژو په موندلو کې اسانتیا برابروي، بلکې خبریالانو ته دا فرصت هم ورکوي، چې د نړۍ مهمو سیاسي تحولاتو او پرېکړو څارنه په چټک او اغېزمن ډول ترسره کړي.

اېکس د نویو رسنیو په ډګر کې د سیاسي بحثونو، نظریاتو او معلوماتو د تبادلې له مهمو بسترونو څخه ګڼل کېږي او په دوامداره توګه د خبري ارزښت لرونکې منځپانګې او موضوعاتو د خپرېدو زمینه برابروي.

سربېره پر دې، د رسنیو د تګلارو او پالیسیو له مخې د ایکس د محتوا فلټر او انتخاب د دې لامل کېږي، چې خبریالان په ځانګړو موضوعاتو او سوژو ډېر تمرکز وکړي او وروسته له هغې یې خپرې کړي.

## د څېړنې وروستی پایلې

د دې څېړنې د لاسته راغلو اطلاعاتو د تحلیل موندنې ښيي چې د ایکس خوالې رسنۍ کارونه په کابل کې د خصوصي ټلویزیونونو د سیاسي برخې خبریالانو له لوري د خبرونو او راپورونو لپاره د سوژو پر ټاکلو اغېز لري.

په افغانستان کې ډېری رسنۍ د سیاسي سوژو پیدا کولو لپاره چې وروسته پرې بشپړ راپورونه جوړوي همدې پرلیکه پلټفورم ته مراجعه کوي او مهم سیاسي تحولات له همدې لارې څاري، د افغانستان په رسنیو کې د خبرونو او راپورونو لپاره د سوژو ټاکلو په موخه له ایکس خواله رسنۍ استفاده یوه رسنیزه اړتیا ده او د متخصصو انساني سرچینو کمښت، رسنیزو ابزارو ته د نه لاسرسي او نورو عواملو تر اغېز لاندې نه راځي. خبریالان د یادې رسنۍ له لارې داسې منځپانګه ټاکي چې د خبري ارزښتونو او د مخاطبانو لیوالتیاو پر بنسټ وي. د رسنیو د مخاطبانو غبرګونونه همدې پرلیکه پلټفورم له لارې ازمایل کېږي او خبریالان د رسنیو د مخاطبانو د غبرګونونو ترلاسه کولو وروسته پرېکړې کوي، چې څینې ټاکلې سوژې په تولیدولو او خپراوي کې تکرار کړي او که نه.

د دې څېړنې موندنې دا هم ښيي چې د ایکس خواله رسنۍ د نورو ټولنیزو پلټفورمونو پرتله د خبریالۍ منځپانګې په تولید کې ډېره کارول کېږي او خبریالان په پوره اعتماد سره له ایکس خواله رسنۍ د خپلو خبرونو او راپورونو لپاره سوژې ټاکي. د ایکس خواله رسنۍ د اطلاعاتو د چټکې لاسته راوړنې په برخه کې د یو باوري پرلیکه پلټفورم په توګه، د خبرونو په تېره بیا د سیاسي خبرونو او راپورونو په خپراوي کې مهم رول لري، له بلې خوا په ایکس خواله رسنۍ کې د پېژندل شویو سیاسي څېرو او نړیوالو رهبرانو حضو ر د دې سبب شوی، چې په کابل کې د خصوصي ټلویزیونونو د سیاسي برخې خبریالان د بېلابېلو سیاسي موضوعاتو په اړه د هغوی نظرونه او غبرګونونه په ګوته او د راپورونو لپاره یې غوره کړي.

د دې څېړنې موندنې دا هم ښيي چې، په کابل کې د خصوصي ټلویزیونونو د سیاسي برخې خبریالان د حکومتي چارواکو او د نړۍ سیاسي څېرو د مستقیمو حوالو ترلاسه کولو لپاره د ایکس خواله رسنۍ ته مراجعه کوي او د خپلو ورځنیو خبرونو او راپورونو لپاره ترې د اړتیا وړ اطلاعات

اخلي. په دې څېړنه کې د ځواب ویوونکو لخوا د ترلاسه شویو اطلاعاتو پر بنسټ، د ایکس خواله رسنۍ د کابل خصوصي ټلویزیونونو د خبر خونو په تېره بیا د سیاسي برخې خبریالانو د پرېکړه کولو پر بهیر اغېزناک رول لري او دا ډله خبریالان د خپلو ورځنیو خبرونو او راپورونو لپاره سیاسي سوژو په پیدا کولو کې پر ایکس خواله رسنۍ ډېر تمرکز کوي.

## عملي وړاندیزونه

د دې څېړنې پرمهال او د موضوع اړوند بېلابېلو تخصصي سرچینو ته له مراجعې وروسته دې پایلې ته ورسېدو چې د خواله رسنیو په تېره بیا د ایکس خواله رسنۍ کارونې پر دودیزې خبریالۍ اغېز کړی او د دا ډول خبریالۍ ترڅنګ د بشپړونکي رول یې خپل کړی دی.

هغه څه چې په دودیزه خبریالۍ کې د خبریالانو لپاره کاري سرخوږی جوړوي، د خبرونو او راپورونو لپاره د سوژو پیدا کول دی، خو نویو یا خواله رسنیو دا اندېښنه په یو فرصت بدله کړې ده او خبریالان کولی شي چې په ثانیو کې د خپلې خوښې وړ انتخاب او تر مخاطبینو یې ورسوي.

په اوسني وخت کې خواله رسنو ته باید ډېره جدي پاملرنه وشي، ځکه دا یوه تخصصي موضوع ده او په دې سره د سیاسي برخې خبریالان کولای شي، چې په ډېرې چټکۍ خبري سوژې پیدا او تر لیدونکو او لوستونکو یې ورسوي.

### سرچينې


آری، دانالد؛ چسر جیکوبز، لوسی؛ رضویه، اضغر. (1380). *روش تحقیق در تعلیم و تربیت* .مترجمان: وارگن سرکیسیان، مینو نیکو و ابعاد سعیدیان. تهران: مرکز تحقیقات.

بیکر، تد. (1381). *نحوه انجام تحقیقات اجتماعی* .ترجمه‌ی هوشنگ نایبی. تهران: روش.

پاتون، جولی .(1395). *راهنمای جامع SPSS؛ تحلیل داده‌ها گام‌به‌گام با SPSS*. ترجمه‌ی اکبر رضایی. تهران: فروزش.

پرهیزگار، محمدمهدی؛ آقاجانی افروزی، علی‌اصغر. (1398). *روش‌شناسی تحقیق پیشرفته در مدیریت با رویکرد کاربردی* .تهران: پیام نور.

حسن آبادی، حمیدرضا؛ امیری، کلثوم؛ ده‌کردی، علی جعفری. (1379). *آمار و روش تحقیق* .چاپ شانزدهم. تهران: مدرسان شریف.

دلاور، علی. **(1373)**. *روش‌های تحقیق در روان‌شناسی و علوم تربیتی*. تهران: پیام نور.

قریشی، فردین. **(1401)**. *روش پژوهش علمی* .تهران: دانشگاه تهران.

ملاباشی، ی.ع. (28 قوس 1389). *(دروازه‌بانی در خبر*. ارتباطات اجتماعی. بازیابی‌شده از: https://ertebatemosbat.blogfa.com/post/48

ویمر، راجر دی؛ دومینیک، جوزف آر. (1353). *تحقیق در رسانه‌های جمعی* .ترجمه‌ی کاووس سید امامی. تهران: سروش.

AGYEI, E. B. (2019). The Intermedia Agenda-Setting among Twitter, Instagram and Online News Websites in Ghana . *University of Ghana*, 79.

BILAL, U. (2023). Use of Social Media for Sourcing and Verification: Journalistic Practices In Pakistan . *University of Oklahoma*, 13-15.

Broersma, M., & Graham, T. (2013, 2 5). Twitter as a news source. *Universtiy of Groningen*, p. 5.

Craig, R. T. (2009). *The Handbook of Journalism Studies.* New York: Routledge.

Gerret von Nordheim, K. B. (2018, 9 20). Sourcing the sources. *Digital Journalism*, pp. 2-3.

Harrower, B. R. (2016). Twitter journalism in Ireland: sourcing and trust in the age of social media. *Taylor & Francis*, 3.

Harrower, B. R. (2016, 5 31). Twitter journalism in Ireland: sourcing and trust in the. *Information, Communication Society* , p. 2.

Hermida, A. (2012). Tweets and Truth: Journalism as a discipline of collaborative verification . *Journalism Practice*, 5.

McGregor, S. (2022, 12 27). The influence of Twitter on journalism and politics. (M. Grossmann, Interviewer).

Media, I. o. (2004, 3 10). The Challange of Changing Audience: or What is the researcher to do in the age of internet? *LSE Research Online*, p. 4.

Olaolu Olaruku Olaimolu, B. O. (2025, 1 10). Influence of Digital Media on Traditional Media Usage: A study of adults residents in Osun state, Nigeria. *Social and Digital Media Discourse*, p. 2.

Sanja Kapidzic, C. N. (2022, 6 22). How News Websites Refer to Twitter: A Content Analysis of Twitter Sources in Journalism. *Journalism Study*, p. 3.

Tshabalala, T. (2022). The intermedia agenda-setting relationship between TimesLive and Twitter in South Africa. *Stellenbosch University* , 73-75.



رنا
علمي-څیړنیزه ژورنال
۹ دوره، ۴ گڼه
د ۱۴۰۴ کال ژمی